دمضمون ليکونکي: پروفيسور ميخايل جوسودوفسکي .

سرچينې اود خپريدو نيټه : ګلوبال ريسرچ «۲۰۱۳-۶-۱۹».

ژباړونکي : پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل».

------------------------------------------------------------------------

# دالقاعدی سره په جګړه کی په سوريه کی له القاعدی څخه ملاتړ داوباما ددولت ملاتړ له «تروريزم » څخه دي

Fighting Al Qaeda By Supporting Al Qaeda in Syria : The Obama Administration is a " State Sponsor of Terrorism"

## آيا پر بارک اوباما اوجان کيری باندی د تروريستی شک وړل کيږی؟

By: prof Michel Chossudovsky
Global Reasearch jun 19-2013.
Region: USA
Theme:9/11 And 'war on terrorism,intelligence, US NATO war Agenda.
In-depth Report: Syria:NATO"S NEXT WAR?

د تروريزم سره په جګړه کی دامريکی د متحده ايالاتو د دوکتورين غټه له سره کتنه اوبدلون .

په هر صورت سره له هغه چي بارک اوباما د جورج والتر بوش پر ګامونو باندی کلک ګامونه اوچتوی اودپوره تعهد اووعدی سره د «نړيوال تروريزم » په جګړه کی د هغه پرلارروان دی مګر بياهم داوباما دولت په دی وختونوکی په روښانه اوبربنډ بڼی سره په سوريه کی دځنو ټاکلی اوانتخابی شورشی ډلو ټپلو څخه کوم چي دالقاعدی د شبکې پوری تړلی ډلی ټپلی دی ملاتړ کوی.

دا يو څرګند ، مستند او پيژندل شوی مساله دی چي دالقاعدی شبکه د سی آی ای په ملاتړ سره دشوروی اودافغان دجګړی په وخت کی په پټه اومخفی بڼي سره وزيږدل .

په هر صورت دالقاعدی شبکه کوم چي دامريکی دمتحده ايالاتو په ملا تړ سره را وزيږيد دا په واقيعت کی د اطلاعاتی سازمان ملکيت او «شتمنی » دی چي په ډ ير ارام او نورمال بڼي سره را مينځته شوی دی .



دالقاعدی سره تړلی  سازمانونه  لکه  د سوریی دال نصر جبهه  کوم چی په ښکاره بڼی سره  دامریکی د متحده ایالاتو دجمهور ریس له طرفه  په عوض ددی چی د سی آی «CIA» له طرفه ملاتړ شوای وای ملاتړ کیږی .




دال نصر له جبهی څخه ملاتړ کوم چي دعراق دالقاعدی سره تړلی یو سازمان  دی دهغه سره  اړیکی له ډیری مودی را هیسی دیو لړ پټ رازونو په نظرکی نیولوسره په مستقیمه بڼي دریدلی اودهغه ارتباط د سی آی  ای (CIA) د «M16»  نهاد دعملیا تو   په  واسطه سره تر کتنی لاندی  پریوتی  کوم   چِي  په نیمه  رسمی  بڼی  سره  د امریکی  د متحده ایالاتودباند نی  پالیسی د اجندا یوه برخه تشکیل کړی دی .اودغه موضوع بیا د بریتانیا ، کانادا ،جرمنی اود فرانسی دلوړو کړیو سره هم مشوره شوی ، اودا په دی  بڼه چی دال نصر دجبهی  دنوم څخه   یادونه  نه دی شوی یواځی  د  «سوریی د شوریشانو » سره

دمرستی ترعنوان لاندی موضوع د اقتصادی اتو غړوهیوادو (G-8) دجلسی په اجندا کی پرځای شوی کوم چی دجون په میاشت کال «۲۰۱۳»په شمالی ایرلندکی ترسره شو.
په هر صورت هغه دوامدار پټ عملیا تی اطلاعات د یاد ونی وړ نقش ولوبول کوم چی دهغه په نتیجه کی اوس اوس په سوریه کی دواشنګټن ملاتړاوحمایت له القاعدی څخه ښکاره او آفتابی شو او د عا مه خلکو له نظره نور خوندی او پټ نه دی اودغه بربنډ ملاتړ دامریکی دمتحده ایالاتو دبا ند نی پا لیسی یوه برخه تشکیلوی کوم چي د متحده ایالاتو د خارجه چارود وزیر جان کیری په هڅه اواند سره مخ ته وړل کیږی .
دسوری دشوریشیا نوسره دامریکی دمتحده ایالاتومرسته اوس دهغه هیواد د کانګرس د مجلس داجندا د بحث او دمذاکری یوه ځانګړی موضوع ګرځید لی دی او د مذاکری له جملی څخه یو هم د امریکی د متحده ایالاتو د سنا د مجلس د باند نیو اړیکی د کمیټی د تصویب هغه لایحه او مصوبه دی چی مخکی له مخکی چمتو شوی وه ، او هغه مطلب کوم چی د ویلو وړ بریښی هغه دادی چی سنا تور کروکر (Corker) د دی تصویب کړل شوی مصوبه د محتویا تو په نظر کی نیولو سره داسی وویل :
دسوری راتلونکی معلوم نه دی چي څه راپیښیږی لاکن هغه څه چي دامریکی د متحده ایالاتو دپاره ډیر مهم دی هغه زمونږ ګټه اومنافع دی چی باید په نظر کی ونیول شی او هڅه دی وشی چی دافراطیت مخه ونیول شی چي په منطقه کی ځواک تر لاسه نکړی که نه مونږ او د منطقی خلکوته به ناوړی پا یلی ولری.( نوموړی په تاکید سره زیاته کړ ):

ددی مصوبی اویا لایحی دپیچپلتیا منطق په دی کی دی چی باید دافراطیت مخه ونیول شی اوبغیر له هغه یعنی د سوریی د شورشیانو سره مرسته به پخپله د القاعدی د شبکی د تشکل اود پراختیا دپاره بی له غټی مرسته بل شی به و نه ګڼل شي.
دامریکی د متحده ایالاتو دسنا د با ند نیو اړیکود کمیټی له خوا وړاندی کړی شوی مصوبه د (۱۵) موافقو او(۳) مخالفو رایوسره په تصویب ورسید کوم چی باید د سوری د شورشیانو سره مرسته وشی .



د حیرانتیا بل وړ مطلب دادی چی اسرایلی پلویان هم پخپلو مینځو کی په ډیر دلګرمی اوفعاله بڼی سره دی پریکړی ته ورسیدل چی باید د جهادی ډلی ټپلی سره هر اړخیز

مرستی وشی .
ټولو ته ښکاره دی چې اسرایل له ډیر پخوا څخه لا تر اوسه  د ګولان   په لوړو اشغال شوی  تپو کی د ال نصر   جبهی اوسازمان کوم چی دالقاعدی د شبکی  یوه  برخه دی ورسره پراخه مرسته اوکمک کوی .
له کینټا کی څخه   کین اړخ  سنا تورښاغلی  را ند پاول (Rand Paul)  د نوموړی مصوبی پر ضد  خپل رای وکارول اوپه اخطاریه بنی سره وویل :
«تاسی نن  دالقاعدی دشبکی ترلی ډلی ټپلی ته ښکاره مالی مرسته وکړل .»

## القاعده ، اوساما بن لادن  » مقاومت «

اوس هر څوک پوهیږی  چي دامریکی دمتحده ایالاتو حکومت  دالقاعدی سازمان سره ښکاره او مستقیم مرسته کوی او دامریکی ددولت  له طرفه   ملاتړ کیږی .
دا د اوبا ما  د پراخی پریکړی  لاسته راوړنه دی  کوم چي نه یوائځی  د « تروریزم سره » دنړیوال جګړی مشروعیت له مینځه ویوړل بلکه  دهغه  سره په مقاومت  کی هم ډیرشکونه او زړه نازړه والی  را مینځ ته کړل .
په هر صورت دلته یو غټ سوال اوحیرانتیا  په دی کی دی  چی دامریکی دمتحده ایالاتودحکومت له طرفه دالقاعدی شبکه یوتروریستی ډلی ټپلی شمیرل کیږی اوبیا نوولی دهغه سره مرسته اوکمک کوی ؟

د سی آی ای (CIA)  دسازمان په اشاره سره  د «مقاومت» دتیزس اصطلاح  پکار وړل د سی آی اي  په قول  یو  «اطلاعاتی  شتمنی دی » لکه د ( اسلامی جها د »   ډلی ټپلی  کوم چي اوس  دغه ډلی  دخپل ملاتړ او زیړونکی په مخه راو لاړ شوی دی .
مجاهد ینو ته ( دلته د مجاهد ینو څخه نوم وړل د افغانی مجا هد ینو څخه مقصد دی ) دجګړی  دپیچلی تکتیکونه اود نوی روشونه زده کول او دهغو سره په زرونو ټنو  وسلی او دجنګی تجهیزاتو مرسته  کوم چی د امریکی دمتحده ایالات اود بریتانیا د دولت له خوا تر سره  شول ټولو ته لکه لمر روښانه دی ، مګر له بده مرغه  اوس  دغه  ټول  مرسته

غرب دپاره د «مقاومت» په یو ه لوی عذاب اوستونزه اغوښتی دی کوم چی غرب اوس غواړی ددی عذاب څخه دخلاصون د پاره پخپل ستراتیژی کی له سره بیا نوی کتنی وکړی (ګاردین –لندن- ددسمبر «۱۵» کال «۲۰۰۱») .

غربی مقا مات اوس په ډاګه سره داسی وایی :مونږ پخپله پرخپل مخ په څپیړه ووهل یعنی مونږ دامریکی د متحده ایالاتو حکومت او زمونږ اطلاعا تی سازمان (CIA) ډیر بد مرغه او کم طالعی یاستو پراوساما بن لادن باندی وغولید لواوهغه داچي بن لادن په اخر کی زمونږ په مخ ودرید اودا په دی مفهوم چی یو ځوی دخپل پلارپه مخ ودریږی .



دجهادی افغانی قوماندانانو ملاقات د جمهورریس رونالد ریګن سره

اوس په دی نژدی وختونو کی د امریکی د متحده ایالات اطلاعاتی سازمان یعنی «سی آی ای » داسی یا د ونه اویا ادعا کوی چي « اوسا ما بن لادن» دالقاعدی مشرزمونږیو (اطلاعاتی شتمنی ) وه چی دسړی جبهی په دوران کی موترلاسه کړی وه. اود هغی سره مو ډیر تینګ اونژدی اړیکی درلود لاکن زمونږ اړیکی دهغه سره د «۹/۱۱» د پیښی حخه وروسته وشلید ل اویو څه ستونزی را پیدا کړل زمونږ اړیکی اوپیوند دهغه سره د شوروی اود افغانستان د جګړی په دوران کی را پیدا شوی وه هوکی په ریښتیا باید چی دامریکی د متحده ایالاتوداطلاعاتی سازمان اوبن لادن ترمینځ اړیکی د«۹/۱۱» د پیښی په را څرګند ید وسره شلید لی وای اوهغه داچی د «سی آی ای»

سازمان مجبور او مکلف وه چی ځان په بیخبری کی واچوی .
« بن لادن له خپل هیواد څخه «۴۰۰۰» دواطلبان دجګړی د پاره په افغانستان کی دشوروی پر ضد ځان سره ویوړل او د افراطی مجاهید ینو اود امریکی دمتحده ایالاتو سره ډیر نژدی اړیکی تینګ کړ...... د دسمبر د یولسم کال «۲۰۰۱» څخه وروسته د «سی آی ای » لوړ پوړی مقا ما تو ښرګند کړل چی بن لادن اوس زمونږ سره کومه اړیکی او پیوند نه لری. ». {Phil Gasper, international socialist Review,November –December 2001}

دویلو بل مهم مطلب دا دی چي د «مقاومت» تیزس یو ښرګند له ځانه راایستلی او جوړکړ شوی موضوع دی او د«تروریزم » په وړاندی د نړیوال جګړی د پاره کوم مجوزاو مشروعیت په لاس کی نه ورکوی یا په بل عبارت دغه جوړکړل شوی تیزسس دتروریزم سره دنړیوال جګړی دپاره کوم مشروعیت نه ور په برخه کوی بلکه دا په ښکاره بڼی سره دا مریکی د متحده ایالاتو د حکومت هدایت او تصمیم دی چی باید دالقاعدی د سازما نونو دکړیو سره په پټه وابستګی او پیوند تامین کړ شی . نو په دی وجهه ویلی شو چی د «مقاومت» تیزسس یو سطحی اوسرسری جوړ کړ شوی موضوع دی چی خپل اعتبار یی اوس دلاسه ورکړی دی .
شواهد او مدارک داسی په ګوته کوی چي دامریکی دمتحده ایالاتو جاسوسی سازمان «سی آی ای» هیڅکله په مستقیم بڼی د « افراطی اسلامی شبهه نظامی شبکو » سره اړیک او پیوند نه تامینوی بلکه دغه سازمان په پټه اوپه مخفی شکل سره تروریستان دخپل ساتنی تر چتر لاندی نیسی اودهغو سره مرسته کوی مثلاْ دامریکی دغه جاسوسی سازمان یعنی «سی آی ای» دخپل اطلاعاتی شریک پروتوکولی جاسوسی شبکی اویا سازمانونو پواسطه سره لکه د پاکستان اود سعودی عرب لاری تر سره کوی .
دا باید یاده کړوچی دنړیرال سړی جګړی دپای څخه لا تر دی دمه ، نه یواځی داچي د نورو هیوادونو د جاسوسی سازما نونو سره دغه پټ اطلاعاتی اړیکی پخپل حال کی پا تي دی بلکه لاپسی ډیره پراخه شوی اویا ډیر سره را نژدی شوی دی .
د«۹/۱۱» له پیښی څخه را وروسته ډله ایز سیاسی اجماع د «مقاومت» دتیزسس تر شاوخوا سره را ټول شول یا په بل عبارت همدغه د«۹/۱۱» یرغل وه چي د مقاومت تیزسس وشو کړلی چی دخپل پر شا وخوا ډ له ایز سیاسی اجماع را ټول کړی ، اوهغه ته د ا سی شکل ورکړی چی ګواکی القاعده پر امریکی با ند ی یرغل کړی دی . اود امریکی د متحده ایالاتو دغه جاسوسی سازمان په همدی وجهه باندی وشوکړی چی د تروریزم اودهغه د یولړ ترلی سازمامانو په وړاندی«نړیوال ضد تروریستی جګړ ی » ته لمن ووهی اوپر نړی باندی ومنی چی باید دالقاعدی د شبکی سره جګړه و کړی ، اما اوس اوس دحالاتو او له شرایطو څخه داسی را معلومیږی چی دامریکی د متحده ایالاتو

اطلاعاتی سازمان په نه شلیدونکی بنی سره خپل مخفی اوپټ اړیکی د یوشمیر تروریستی سازما نونو سره کوم چی دامریکی د با ند نیو وزارت په لست کی دی جاری ساتلی دي.

په متناقض بنی سره یوشمیرغربی جاسوسی سازمانونه (سی آی ای- -M16 د جرمنی BND ) یو د بل څخه خپل پټ ملاتړ د تروریزم پرضد نړیوال جګړه کی یوضروری اولازمی وسیله منی اوهغه داچی یعنی دخپل هیوادونو دامنیت د تامین دپاره د تروریزم سره جګړه او دښمنی کوی، نودهمدی هدف درسیدو دپاره دامریکی متحده ایالات او ناتو په دی هڅه کی شو چی یو شمیر تروسیتی سازمانونو په ما دی مرستی سره دخپل مزد بګیر پیاده نظام سرتیری په بنه په کار واچوی اوهغوی د غربی نظامی متحدانو په نوم سره یا دکړی چی همدعسی یی هم وکړ.

دغه خپل ملاتړ اومرستی په مخفی ډول سره دیوشمیر هیوادونود تروریستی جهادی سازمانونو سره(لکه-مخکینی یوګوسلاویا- افغانستان-عراق- سومالیا- یمن- لیبیا- سوریه- نایجر- مالی- الجیریا – مصر اوداسی نور) د امریکی دمتحده ایالاتو اودناتوپه سرکردګی ترسره کړ اودهغو هیوادونو تمامیت اوحاکمیت ته ستر تاوان ورسول .

## اوباما اوال نصر، له «تروریزم » څخه دولتی ملاتړ: اوس

اوس داسی څرګند شوی اویا ویل کیږی چی دنړیوال پرتجارتی مرکز اوپرپنتاګون باندی د «۹/۱۱» دیرغل اصلی زیږونکی اندیښمن القاعده دي.

افغانستان د «۹/۱۱» د یرغل د پیښی څخه وروسته سمدلاسه د تروریزم دساتونکی هیواد په عنوان وپیژندل شو کوم چی دهغه په موجب دغه هیواد داکتوبر په «۷» کال «۲۰۰۱» کی دامریکی دمتحده ایالاتو اود ناتو د تها جمی قوتونو تر تجاوز او بمبارد لاندی پریوت او افغانستان پخپل وار سره دامریکی دمتحده ایالاتو له خوا په اصطلاح سره په قانونی بنه د تروریزم سره په جګړه کی یو ځا نګړی ځای اود جنګ میدان ومنل شواود «۹/۱۱» له پیښی څخه وروسته سمدلاسه تر تجاوز او بمبارد لاندی راغی.

## « ۱۳۲۲۴ نمبر اجرایوی فرمان :دسپتمبر په «۲۳» کال «۲۰۰۱»

کی جمهور ریس جورج والتر بوش (۱۳۲۲۴) نمبر اجرایوی فرمان کوم چی دهغه محتویات په دی شان دی لاس لیک کوی :دامریکی دمتحده ایالاتو دخزانه داری وزیر ته هدایت ورکول کیږی چی دهغه ټولو سازمانونو ، پیژندل شوی اشخاصو دارایی ، ملکیت ، شتمنی کوم چی دتروروستانو سره مادی ، معنوی مرسته کوی یا هغو ته مواد برابروی یا دهغو ضامن کیږی ، یا دهغو څخه ملاتړ کوی مصادره او کنګل کړی ) [دسپتمبر «۲۳» کال «۲۰۰۱»].

د بلی خوا څخه په کال (۲۰۰۱) کی دامریکی د متحده ایالاتو کنګرس دوطن

پرستی تر عنوان لاندی یو قانون په تصویب ورسول او د جمهور ریس جورج والتر بوش له خوا لاس لیک شو اودا په دی معنی چی وطن پرستی په امریکی کی دقانون بنه غوره کړ اودغه قانون د «۹/۱۱» د یرغل په ځواب کی را مینځته شو ، کوم چی پرنړیوال تجارتی مرکز اوپر پنتاګون باندی دالقاعدی له طرفه یرغل تر سره شول .
ددغه وطن پرستی دقانون په رڼا کی هر هغه حلقی یا کړی ، سازمان اویا اشخاص چی القاعدی یا تروورستا نو ته بمونه برابروی یا دهغه سره مالی مرسته کوی هغه پخپله تروریست دی ، لکه هسی چی جمهور ریس جورج والتر بوش پخپل یو رسمی وینا کی داسی وویل « مونږ دتروورستانو کوم چی د ناوړو کړونو مرتک کیږی اودهغو تر مینځ کوم چي تروورستانو ته پناه ورکوی هیڅ توپیر نشو کولای . ».
د مربوطه قوانینو د مندرجا تو په نظر کی نیولو سره تروریستانو ته د پټ خایونو برابول اودهغوسره ما لی اومادی مرسته ډیر سخت منع کړ شوی دی اوهمد ارنګه د امریکی دمتحده ایالاتو د وطن پرستی په دی تازه قانون کی القاعده اودهغی پوری تړلی سازمانونه ، پیژندل شوی اشخاص کوم چی دغه تروریستی سازمانون سره مرسته کوی یا هغوی جګړی ته هڅوی ټول له یو سره تروریستی سازمانونه اوتروریستان تعریف شوی دي .
ممنوعه پوښتنی : ایا دامریکی دمتحده ایالاتو د (۱۳۲۲۴) اجرایوی فرمان او د وطن پرستی د قوا نینو د مندرجاتو په نظر کی نیولو سره له پاسه ( دامریکی دمتحده ایالاتو جمهور ریس، دباند نیو چارو وزارت او دامریکی دکنګرس غړی ) حق لری چی دقانون د پلی کولو مسولیت پر غاړه ولری .
ددی قا نونی اسنادو او دوثیقو د مندرجاتو په نظر کی نیولو سره دامریکی د متحده ایالاتو دعد لی وزارت ته سپا ریښتنه شوی چی هرهغه تروریستی سازمان اود هغو سره تړلی سازمانونونه او افراد ترقانونی څارنی او تعقیب لاندی ونیسی اوهمدارنګه دامریکی د متحده ایالاتو د خزاینو وزارت ته هدایت ورکړ شوی چی د نوموړی تروریستی سازما نونو –اشخاصو او ټولو هغه کړیو چی دالقاعدی سازمان پوری تړلی دی دهغوی مادی اومالی پانګی او شتمنی کنګل کړی( دشورا د باندنیو اړیکواسنادو دی وکتل شی ).
دیورتنی یادونو سره ورته اقدامات د اروپا داتحادی له خوا هم تر سره شوی کوم چی یو هم د بریتانیا د مالی وزارت دی چی تر اوسه پوری د سلونو کسا نو او دتروریست سازمانونو کوم چی دالقاعدی سره آړیکی لرل دهغوی ما لی اوپا نګه له یو سره کنګل کړی دی .
او دبل طرفه هغه هیوادونو کوم چی تروریستانو سره مرسته کړی یا اوس مرسته کوی دتروورستا نو ساتونکی هیوادونه نومول شوی دی .
همدارنګه ضرور بریښی چی یوه بل مهم موضوع څخه هم یادونه وکړو او هغه دا چی د همدی قوانینو دمندرجاتو په نظر کی نیولو سره دامریکی دبا ند نیو وزارت ته

سپاریښتنه شوی چي دهغه وزارت وزیر دا حق لری چي هیوادونو ته چی څو څو ځلی هغوی ته یادونه شوی چی تروریستی سازمانو سره له مرسته کولو ډډه وکړی اما سره دهغه بیاهم نوموړی تروورستا نو ته خپل مرستی نه دی سپمولی هغه د تروورستی سازما نو دملاتړ هیوادونو په جمله کی وشمیری اودهغوی نومونه دنوموړی وزارت اود ضد شورش ددفتر په لستونو کی ولیکی اویا یی درج کړی .

## آیا پربارک اوباما اوپرجان کیری باندی د تروریستی شک اوګمان وړل کیږی ؟



اجازه راکړی چی دالنصر د جبهی په اړین کوم چی په سوریه کی یو له څواکمن شورشی ډلو تیلو څخه شمیرل کیږی یوڅه تم شو اودهغه دپوره پیژندګلوی په اړین یو څه تشریحات ورکړو : دغه دالنصر جبهه دالقاعدی سره ډیر نژدی اړیکی لری یا دهغه یو له تړلی سازمانونو څخه دي، ددی جبهی مشر او پیشوا ابو محمد ال ګولانی نومیږی چی هغه خپل ارتباط اواړیکی دالقاعده سازمان دمشر ایمن الظواهری سره کوم چی اوس هغه داوسما بن لادن دمړنی څخه وروسته دهغه پر ځای ناست دی بیا نوی .

دامریکی د متحده ایالاتودباند نیوچارو وزارت د ضد تروریزم داداری په قول اوقرار دالنصر جبهه په سوریه کی ډیر یو غښتلی اوقوی تروریستی سازمان دی کوم چی دعراق دالقاعدی تروریستی سازمان سره ډیر ټینګ اړیکی لری .

د امریکی د متحده ایالاتو د با ند نیو چارو وزرارت یوه مقرره په تصویب رسولی چی دهغی په رڼا کی هیچ چا ته اجازه نه ورکوی چی دالنصردجبهی سره مادی مرسته وکړی، یا هغه ته په پوره پوهاوی سره لار ښونه وکړی یا هغه ته مادی سرچینی او منابع برابر کړی بلکه برعکس با ید چی د هغوی یعنی د نصر د جبهی په څیر دنورو

ورته تروریستی سازما نونو شتمنی که دامریکی په د ننه کی وی اویاکه دباندی څخه دامریکا یی اشخاصو په واسطه سره د ننه شی باید سمد دلاسه کنګل شی ،[ دلته په تایدی بنی سره یادونه کیږی ] :

دا بلکل درک او پوهید ل شوی چي دامریکي دمتحده ایالاتو د باندنیو چارو دوزارت سیا ست دتروریزم پر ضد مبارزه دی او په عین وخت کی دهغو هیوادونو سره هم مبارزه اوشخړه دی کوم چی د تروریستی سازمانونو څخه ملاتړ کوی .

په هرصورت اوس دالنصر جبهه د ترکیه ، قطر ، سعودی عرب اود اسرایل پواسطه سره کمک او دهمدی هیوادونو دلاری دنومونړی جبهه نژدی اړیکی او سلا مشوره دناتو اود پنتاګون سره تامین کیږی .

داوباما اداره په ښکاره اوبربنډ بنی سره د سوریی شورشیانو سره کمک اومرسته کوی یا هغوی تر خپل حمایی لاندی نیولی کوم چي دهغو په سر کی دالنصر جبهه قرار لری چی داوبا ما داداری سره ډیر نژدی اړیکی لری اوهر اړخیز مرسته ورسره کیږی .

دامریکی د متحده ایالاتو دوطنپرستی دقانون پر بنیاد « په پوره پوهاوی سره چا ته اجازه نه دی چی هغو اشخاصو ته کوم چي په تروریستی فعالیتونوباندی متهم وی سرپناه ورکړ شی ، اویا دهغو سره مرسته وشی .

همدارنګه دوطنپرستی دقانون پر بنیاد مسولو اجرایوی مقاماتو ته دا صلاحت ورکړ شوی چی هغوی هغو منع کړی کوم چی تروریستتانو ته سرپناه برابوی .

دبلی خوا څخه دامریکی دمتحده ایالاتو دعد لیی دوزارت په قول ، اود وطنپرستی دقانون پر بنیاد هغو کسان کوم چی د تروریستانو سره په دننه اویا په دی با ندی مادی یا معنوی کمک کوی یا دهغوی د پاره د تهدید زمینه څه چي هغوی ته پیسی ورکوی چی بمب وپلوری یا داچی د بمب سوچ ته فشار ورکړی سخته جزا ورکول کیږی یا هغو ته سخته جزا په پام کی نیول شوی دی .

همدارنګه دهمدی وطنپرستی دقانون دمندرجاتو په نظر کی نیولو سره هغه کسان ته ډیر سخته جزا ورکول کیږی چی تروستانوته د بمب په برابولو کی مادی مرسته وکړی اویا د القاعدی دشبکی دپار ما دی وجوه برابری کړی هغوی پخپله دنومونړی قانون له مخی د تروریستا نو عمل تر سره کوی .

یا په بل عبارت اوس داوبا ما ادره اودهغه متحد ین تروریستی سازمانونو ته دامن ځایونه (پناه ) ورکړی کوم چی دامریکی د متحده ایالاتود با ند نیو چارو دوزرارت په لست کی دهغو نومونه ثبت دی .

نودهمدی دلیل پر بنیاد جمهور ریس اوباما اودباندنیو چارو وزیر جان کیری په کامل پوهاوی سره ټول هغه سازمانونو ته چی د ا لنصر جبهی سره اړیکی لری هغو سره هم مادی مرسته کوی ،هم ورته سر پناه ورکړی ،هم هڅه کوی چي هغه سازماننونو ته مادی منابع برابرکړی .

لکه هغسی چی دامریکی دمتحده ایالاتو دوطنپرستی په قانون کی راغلی وه چی هر هغه څوک چی د تروریستانو سره په کامل هوښیاری مرسه وکړی ، هغو ته منابع برابرکړی ، یا دهغو د پاره مواد اومهمات چمتو اوبرابرکړی مجرم شمیرل کیږی یا تروریست ګڼل کیږی ، نو د همدی دلیل په نظر کی نیولو سره ایا اوس د اوباما دولت اواداره په ښکاره بڼی تروریستانو سره مرسته نه کوی او یا داچی هغه د خپل هیواد د ضد تروریزم قانون تر پښو لاندی نه دی کړی او یا نه کوی ؟

د ډله ایز رسنیو همغاړیتوب : د سی ان ان (CNN) په قول دیوی اطلاعاتی سازمان راپور پر حواله په سوریه کی دالنصرجبهه مسلح او ډیر غښتلی او زبر ځواک قوت دی کوم چی لرونکی د مجهز او په مختلفو سلاح ګانو با ندی سمبا ل تروریستی ګروپونه لری یعنی دیو اټکل له مخی دهغه جبهی ټول غړی لسو زرو نفرو ته ریسیږی کوم چی خپل پیسی اوسلاح دکوم ځای اویا دکوم منبع څخه ترلاسه کوي .؟ اما سی ان ان ونه وویل اویا توضیح نکړ چي دغه دالنصر جبهه ولی په سوریه کی دنورو متوسطو اود منځګړی شورشی ډلو ټپلو په پرتله دومره مسلح دی او خپل پیسی او جنګی مهمات له کوم منبع څخه تر لاسه کوی ؟

اویا ولی ددی جبهی زیات غړی سره ددی چی دولت دهغو په وړاندی ډیر سخت عملیاتونه هم تر سره کوی بیاهم پخپل قوت کی را پاتی دی .

په حیرانونکی توګه سره د سی ان ان اخرنی راپور ( جون ۱۸ کال ۲۰۱۳) راښیی چی دالنصر دجبهی شورشیان له دی نه چی دولت د کیمیاوی سلاح په لټه کی اووسی ددی جبهی غړی غواړی چی کیمیاوی اسلحی تر لاسه کړی .

د النصر د جبهی غړی په نه ستړی کیدونکی هلی ځلی سره د کیمیاوی سلاح ګانو دلاسته راوړلو په لټه کی دی ،لکه هسی چی یوکارپوه اوتحلیلګر په دی هکله سی ان ان ته داسی توضیح ورکوی : نور هیڅ نه یواځی په دی تیرو څو هفتو کی امنیتی ځواکونه په ترکیه او عراق کی دخپل عملیاتو نو په ترڅ کی چی دالنصر د جبهی زیات غړی نیولی هغوی اکثراً په ډیر نه ستړی کیدونکی هلی ځلی سره د کیمیاوی سلاحګانو اوپه تیره بیا د سارین (داعصابو دفلج کولو یوکیمیاوی ګاز دی ) د ګاز د لاسته راوړلو په هڅه اواند کی وه .

ددی اخری راپور پربنیاد د ترکیه پولیس په تا ییدی بڼی سره وویل چی د النصر دجبهی هغه غړی کوم چی هغوی د خیل امنیتی عملیاتو په تر خ کی رانیولی دی هغوی د سارین د ګاز د لاسته راوړلو په لټه کی وه .

دویلوبل مهم ټکی دادی چي سی ان ان(CNN )دخپل ګذارش په خلاف اوپه متنا قض شکل سره هغسی چی په تفصیل سره مخکی ویلی وه چی د سوریی شوریشان په نه ستړی کیدونکی هلی ځلی سره د کیمیاوی اسلحی دلاسته راوړلو په لټه کی دی کوم چی

خپل ځان په نوموړی سلاح تجهیز اوسمبال کړی بل شانته خبری کوی .
لاکن تیره اونی د اوباما اداره په ښکاره او رعنده بڼی سره اعلام وکړ چي دهغه اداره یا دولت غواړی چی دسوری شوریشیا ن په سلاح اونظامی مدرنو وسایلو اومهماتو سره سمبال کړی اودا ځکه چي د سوری دولت دخپلو مخالیفینو سره په جګړه کی له کیمیاوی اسلحی څخه کار اخلی .
دغه وینا او یا دونه یعنی د سوریی شوریشیا نو ته سلاح ورکول ددوشنبی په ورځ داته غړو هیوادنو په اجلاس کی چی په شمالی ایرلیند کی برګذار شوی وه دتړلو دروازو تر شا په تصویب ورسید ل اودنوموړی اجلاس څخه وروسته د سوری پخوانی متحد یعنی روسیه په ډاګه کړ چی دوی (غربی هیوادونه ) دهغه کسانو سره غواړی مرسته وکړی یا هغو ته سلاح ورکوی کوم چي هغوی دخپلو دښمنانو غړی خوری .
اوباما دسوری د شورشیانو د پاره دخپل کمکونو اندازه په تفصیل سره بیان ونکړ اما دواشنګټن لوړ پوړی چاراوکی سی ان ان ته په یوه خبری ناسته کی وویل چی زمونږ مرستی دسوری شورشیانو دپاره وړی اویاسپکی سلاح، مهمات اود امکان په صورت کی د ضد ټانګ اسلحی ممکن به وی .

## دالنصرسره داوباما پراخه مرستی:

د مقاومت تیزس په اوسني شرایطو اوحالاتو کی د مینځه تللی اود ا لقاعدی د شبکی سره مرسته ابداً لا تر اوسه نه دی درید لی اوداځکه چی دغه تروریستی سازمان اودهغه پوری تړلی نور سازمانونه د سی آی ای (CIA) په مرسته او هلی ځلی سره را مینځته شوی اود واشنګټن له خوا ترسا تنی اوملاتړ لاندی نیول شوی دی .نو په دی وجهه نه داچی دمقاومت تیزس یواځی داوباما




له طرفه نه دی ردشوی بلکه دا اوباما دی چی د النصر د جبهی سره ښکاره او بربنډ مرسته کوی لکه هسی چی ناتو په کال (۲۰۱۱) کی په لیبیا کی دشورش له پیل څخه

تر بمب ګذاری پوری د القاعدی اودهغی پوری د تړلی ګروپونو څخه په مستقیم ډول ملا تړ وکړ .

دتروریزم په وړاندی دنړیوال د جګړی مفهوم اوس بیخی شکنن بیمعی اوبی ماهیت شوی دی، د تروریزم سره د جګړی مخ ته اچول او هغه هم دالقاعدی اودهغه دنورو تړلی سازمانونو دفعال ګډ ون په وړاندی نړیوال جګړه اوس په یوسفسطه باندی بد له شوی او خپل ماهیت یی بلکل دلاسه ورکړی یواځی دروغ ، جعل او غیر منطقی دریخ بل شی نه دی اوبس .

دتروریزم سره دنړی دخلکو پراخه جګړه یواځی د تبلیغاتو په پاټو کی پاتی دی اولکه دګراموفون دما ت ریکارد په څیر بی له دی چی خلکو هغه ته غوږ ونیسی لګیا دی پخپل سر غږیږی اودبلی خوا څخه نا سم اطلاعاتی مبارزه هسی ښکاری لکه چی څوک دمړی کوڅی ته ورداخل شی یعنی د تروروستان تر شا تګ دترویستا نو څخه ملاتړ ؟

اوپه تاسف سره په عین زمان کی دامریکی دخلکو مالی مرسته دداسی یو حکومت سره کوم چي هغه حکومت غواړی دترویستانو پر ضد خپله تروروستان جګړی ته را وبولی ؟

د«۹/۱۱» له پیښی څخه وروسته د پنتاګون دوکتورین د( تروریزم په وړاندی دنړی جنګ ) پیشبینی اویا وړاندی وینه شوی وه اودا دامریکی دمتحده ایالاتو د نظامی اجماع وړاندی وینه وه اود همدی دوکتورین پر بنیاد دامریکی نظامی قوتونه تر روزنی او څارنی لاندی ونیول شو .

په هرصورت د امریکی کارمندان اوښځی حاضر شو چی دغه ددرواغو غټه مړی بلع (له ستونی تیر کړی ) کړی اودتروریزم سره وجنګیږی.. کوم چی له یو سره جعل او دروغ وه.

دجمهور ریس اوباما (ښکاره) ملاتړ دسوری د القاعده له شورشیا نو څخه هغی ته پاتی کیږی چی دچنجیو دکانسر دقطی سر خلاص کړ شی.

مونږ څنګه کولی شو چی دامریکی دمتحده ایالاتو جمهور رسان کتګوری کړو هغه چی دالقاعدی سره په جګړه کی ځان متعهد وبولی اوپه عین وخت کی د القاعدی له سازمان څخه خپل ملاتړ هم اعلام کړی ؟

نو په دی بنیاد دهیواد ټول امنیتی اوددی دکتورین لارویان له یوسره لکه دکشتی دعرشی اویا دکاغذ د پاڼی په څیر په ښوريد و او لغزش را ښکاری .

------------------------------------------------ په درناوی